# دهقان
هفته‌نامه

هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدوبیست‌وپنجم ▪ شنبه ▪ ۲۷جدی ▪ ۱۳۹۹




**یک سال و دو فصل حاصل: ساخت ۲۳ جریب باغ لیمو در کنر**

۴



## روایت یک بانوی بی‌ســرپرست که حالا خودش سرپرست است: نور خورشید به زنده‌گی سـکینه رونق بخشید

۳

د کرنې وزیر:

## د افغانستان د اساسي قانون مدني ارزښتونه یوازې د پرمختللو هېوادونو په قوانینو کې موندلی شو



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د یوې غونډې په ترڅ کې د هېواد د اساسي قانون د تصویب اوولسمه کلیزه ولمانځله.

په دې اړه په جوړه شوې غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټرانوارالحق احدي، د هېواد اساسي قانون، تر ټولو ارزښتناکه ملي سند وبلله او ویې ویل، چې دا قانون ډېر پرمختللي ارزښتونه لري. ښاغلی احدي زیاته کړه: «د افغانستان اساسي قانون، نورو هېوادونو ته په پرتله نسبتاً پرمختللی قانون دی. دا قانون له ډېرو پرمختللو ارزښتونو او سیاسي موسساتو خبرې کوي.»

د کرنې وزیر وایي، چې د قواوو تفکیک، د بیان ازادۍ، د ښاروندۍ مساوات او حقوق د هغو ارزښتونو له ډلې دي، چې یوازې د ډېرو پرمختللو هېوادنو په اساسي قوانینو کې پرې خبرې شوې دي، خو د افغانستان په اساسي قانون کې هم یاد ارزښتونه ځای پرځای شوي دي. ښاغلی احدي وویل: «د خدای په فضل سره، په افغانستان کې زموږ اساسي قانون دومره پرمختللی دی، چې نه یوازې په کې د ښځو د حقوقو پر تامین ټینګار شوېږ، ترڅنګ یې د ښځو د استازولۍ په برخه کې هم لږترلږه یوه ځانګړې برخه ذکر کړې دی، چې په پارلمان کې باید لږترلږه ۲۵ سلنه استازې مېرمنې وي.»

دکرنې وزیر دغه راز د هېواد اساسي قانون یو «ژوندی قانون» یادوې او وایي، چې د قانون د ژوندي پاته کېدو په پار باید لا ډېرې هلې ځلې ووشي...

۳



**معرفی پروژه‌ی اضطراری زراعت و مصونیت غذایی: ۱۰۰ میلیون دالر برای کاهش آسیب‌های ناشی از کووید-۱۹ در دو سال**

۵



**کلیوالي پرمختیایي پلانونو کې د اقلیم بدلون ته پاملرنه**

۷

## کندهار کې د زون په کچه د لوی کرنیز کمپلیکس د بنسټ ډبره کېښودل شوه




د کندهار په ولایت کې د زون په کچه د یولړ مراسمو په ترڅ کې د یو لوی کرنیز کمپلیکس د بنسټ ډبره رسماً کېښودل شوه.

په دې اړه جوړه شوې غونډه کې په انلاین بڼه ولسمشر محمد اشرف غني، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټرانوارالحق احدي، د کابینې یوشمېر وزیرانو، د هلمند، ارزګان او زابل ولایت والیانو او په حضوري ډول د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري، دکندهار والي روح الله خانزاده، د لوړو زده کړو معین عبدالتواب بالاکرزی، قومي مشرانو، پانګوالو، مېرمنو او د کندهار یوشمېر اوسیدونکو ګډون درلود.

په چهار چنار ماڼۍ کې په دې مناسبت جوړې شوې غونډې ته چې له کندهار څخه د کرنې وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال، د کندهار والي، د لوړو زده کړو معین او یو شمېر نور مشران د ویډیو کنفرانس له لارې وصل وو، د ولسمشر په لارښوونه د کرنې وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري، د کندهار والي روح الله خانزاده او د لوړو زده کړو معین عبدالتواب بالاکرزی له خوا د لوی کرنیز کمپلیکس...

۳

## د هرات د انجیل ولسوالۍ په دشت حوض کې د پستې ۳۰ زره هکتاره سوداګریزه بڼونه جوړېږي



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري، د هرات ولایت د انجیل ولسوالۍ په دشت حوض کې د سوداګریزو بڼونو د جوړولو طرحه د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر انوارالحق احدي ته وړاندې کړه.

ښاغلی غفوري وویل، چې د هرات د انجیل ولسوالۍ دشت حوض په ټولیزه توګه ۴۸زره هکتاره ځمکه ده، چې ددې طرحې پربنسټ، د خصوصي سکټور او د افغانستان دولت په ګډې پانګونې سره په ۳۰ زره هکتاره کې یې سوداګریز بڼونه جوړېږي. د کرنې وزارت د اوبولګولو د مرستیال په خبره، ددې طرحې د تخنیکي، اقتصادي او ټولیزو مطالعاتو یوه برخه بشپړه شوې ده او په بله برخه یې کار روان دی.

دا طرحه چې، د عالي اقتصادي شورا له خوا منظور شوې ده، ټاکل شوې، چې کابینې ته وړاندې شي او ترهغه وروسته د پنځو کالو په لړ کې پلي کیږي.

ښاغلی غفوري وویل، له کومه ځایه چې د پستې ونې له څلورو کالو وروسته حاصل ورکوي، د کرنې وزارت په دې طرحه کې د کال ۳۰ میلیونه ډالرو د ترلاسه کولو په پار د ونو په منځ کې د زېرې کرکېله هم شامل دی. د طبیعي سرچینو او اوبولګولو مرستیال یادونه وکړه، چې د انجیل په دشت حوض کې د پستې د سوداګریزو بڼونو حاصل ته په رسېدو سره ټاکل شوې، چې د افغانستان د پستې په کلنې صادراتو کې د ۷۰۰ میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات زیات شي.

ددې ترڅنګ، د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال وویل، چې یاده طرحه د چاپېریال ساتنې په برخه کې هم ګټور تمامیږي او د ۵۰۰ محافظتي بندونو (چکډمونو) په جوړېدو سره د اوبو د ضایعاتو مخه نیول کیږي او دغه راز د سېلابونو د کنټرول، د خاورې د فرسایش مخنیوی او د دوړو او خاورو د کچې ټېټولو لامل هم کیږي.

د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري له خوا ددې طرحې د مالوماتو د وړاندې کولو په پای کې، د کرنې وزیر ډاکټر انوارالحق احدي، ددې طرحې هرکلی وکړ او له ښاغلي غفوري څخه یې مننه وکړه. دغه راز د کرنې وزیر دخپلو لارښوونیزو نظریاتو د وړاندې کولو ترڅنګ، ددې پروژې د پلې کېدو پر چټکتیا ټینګار وکړ.

## د بزگر خبرې

### له ونو سره خواخوږي ووسئ

اوس چې، په ساړه موسم کې یو. د کورونو تودول د ډېرو لوگیو د ایجادولو لامل کېږي. په دې حال کې کوم شي، چې په فجیعانه ډول زیانمنیږي، هوا او چاپېریال دي.

بل زیانونه چې تر ډېره په کلیوو کې د ژمي په مسوم کې طبیعت ورسره مخامخیږي، د سون توکو لپاره د ونو پرې کول دي.

د یو مسوولیت منونکی هېوادوال په صفت باید د لوگیو د تولید د کچې په ټیټولو کې مرسته وکړو او ترڅنگ یې زموږ د سږو د اکسیجن د تامینوونکي په صفت ښه داده، چې باید له ونو سره خواخوږی او مهربانه ووسو.

ونه د طبیعت د ښکلا تر ټولو غوره ملاتړ کوونکی دی. دغه راز د ودانۍ او زرغونتیا الگو او د ژوند، د هوا د پاکوالي او دخلکو د سوکالۍ او ارامتیا او د طبیعت د پاکوالي او ښکلا لامل دی.

له ونو پرته ژوند او طبیعت، دواړه ناانډوله او بدرنگه کېږي. د انسانانو په ژوند او د طبیعت په صحنه کې د نو او ځنگلونو شتون، د ښکلا، ښادۍ، زرغونتیا، سوکالۍ، پاکۍ او طراوت لامل کیږي.

ونې او نیالگي د ځمکې نبض دي او د انسانانو او حیواناتو او حتا د یوشمېر گیاوو د حیات اصل دي، ځکه چې نیالگي او ونې د سیمې د گازاتو له ډلې کاربن ډای اکسایډ او د اکسیجن تولید، چې د انسانانو او حیواناتو له اساسي اړتیاوو څخه دی، د انسانانو د ژوند د دوام او د طبیعت د چرخې د سلامتیا لامل کېږي. د نیالگیو کموالۍ او د ځنگلونو له منځه وړل په ځانگړې توگه د لوگیو او ماشیني ژوند په دې عصر کې، د انسانانو او حیواناتو د نسل د انقراض لامل کېږي.

د ونو او نیالگیو پاڼې او ښاخونه د څارویو او کله ناکله د انسانانو د تغذیې مهمه برخه جوړوي او د انسانانو د مصرفي غوښو په تولید کې(له گیاوو څخه د حیواناتو په تغذیې سره) لومړنی ونډه لري. نیالگي او ونې کولای شي، چې د کرنیزو خاورو د فرسایش مخه ونیسي او د سېلابونو راتوتو په صورت کې د کرنیزو ځمکو د خوندیتوب لامل شي.

تر ټولو مهمه دا چې، نیالگي د آب‌وهوا په بدلونونو او د دوی ترمنځ د اعتدال په رامنځته کولو کې رغنده رول لري. د ځنگلونو رامنځته کول او پراختیا نه یوازې دا چې د اوبو او هوا پر لړۍ اساسي اغېزې لري، ترڅنگ یې د الوتونکو، څارویو او نورو اهلي او وحشي حیواناتو په حشر او نشر او په ټوله کې د طبیعت د چرخې په تعادل کې رغنده ونډه لري.

د ونو او نیالگیو رېښې او سیورې، د هغو گیاوو د خوندیتوب او ودې په برخه کې، چې په خپله نه شي کولای د اوبو د جذبولو لپاره خپلې رېښې د ځمکې اعماقو ته ورسوي او یا په گرمو موسمونو کې د لمر د مستقیمو وړانگو ځواک او تحمل ونه لري او یا د تندو بادونو او بارانونو پر وړاندې د مقاومت توان ونه لري، رغنده اغېزې لري.

د منې په موسم کې د ونو له پاڼو او ښاخونو بزگران او بڼوال هم لازمې گټې پورته کوي.

د منې په موسم کې د ونو له رژېدلو پاڼو څخه کولی شو چې «سره» متراکمه سره، چې توره خاوره (کرنیزه خاوره) نومیږي جوړ کړو. دا ماده د خاورې په واسطه د اوبو د ساتنې کچه لوړوي.

ونه، نیالگي او په ټوله کې ځنگلونه د ونو د پاڼو او ښاخونو په ملتیا سره د بادونو د سرعت کچه ټیټوي او رېښې یې خاوري خوندي ساتي او د خاورې د فرسایش مخه نیسي. د ځنگلونو په منځ کې د ارامې هوا له وجې تبخیر ډېر لږ دی، او د خاورې د وچېدو گواښ چې د فرسایش د پیل مهمه برخه دي، له منځه ځي. یادو ټولو موضوعاتو ته په کتو، غواړو ووایو چې د لوگیو په تولید کې د ونډې نه اخیستو ترڅنگ، باید ونې پرې نه کړو. د ونو پرېکول زموږ او زموږ د ماشومانو د ژوند درېښو پرېکول دي.

## د کرنیزو محصولاتو مدیریت او د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پروژو لاسته راوړنې دکرنې وزیر ته وړاندې شول

د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت د اوبولگولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري د کرنیزو محصولاتو مدیریت برنامې او د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژې د چارواکو په شتون کې، په ۱۳۹۹یم مالي کال کې د یادو پروژو د فعالیتونو او لاسته راوړنو په هکله د کرنې وزیر ډاکټر انوارالحق احدي ته مالومات وړاندې کړه.

ښاغلی غفوري وویل، چې په هېواد کې د کرونا وبا له خپرېدوسره سم د کرنیزو محصولاتو مدیریت، د یوشمېر مهمو کرنیزو محصولاتو د خوساکېدو د مخنیوي او هېوادوالو ته د کاري زمینې برابرولو په پار نږدې شپږ میاشتې وړاندې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت پروژه په لاره واچول شوه. ښاغلی غفوري وویل، چې یاده پروژه د کرنې وزارت له خوا طرحه او په ټول هېواد کې پلې شوې دی.

د کرنې وزارت د اوبولگولو او طبیعي سرچینو مرستیال زیاته کړه، چې په ټولیزه توگه د هېواد په کچه د کرنیزو محصولاتو د مدیریت د برنامې له لارې ۱۰زره او ۸۲۸ ودانۍ جوړې شوي دي، چې په کې ممیزخونې، د پیازو او کچالو زېرمتونونه او دغه راز د منو او انارو ساتنې په پار صفر درجې سړې خونې شامل دي.

حشمت الله غفوري دغه راز زیاته کړه، چې د ۱۳۹۹یم مالي کال په ترڅ کې د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژې له لارې هم په ۱۱ ولایتونو کې په ټولیزه توگه یوزر او ۹۷ پروژې، چې په کې ممیزخونې، د پیازو او کچالو زېرمتونونه او د منو او انارو صفردرجې سړې خونې جوړول او ترڅنگ یې په دغو ولایتونو کې پر یوشمېر مېرمنو د مېوو او سبو لمریز وچوونکي دستگاوو وېش شامل دي پلي شوي دي.

د اوبولگولو او طبیعي سرچینو مرستیال زیاته کړه، چې ددغو پروژو په پلي کېدو سره ۸۷زره کسانو ته لنډمهالې دندې او ۲۹ زره کسانو ته د دایمي دندې زمینه برابره شوې ده. د هغه په خبره، د دغو پروژو د ودانیزو چارو په بشپړېدو سره، څه باندې ۱۶۵ زره مټریک ټنه کرنیز محصولات چې په کې منې، انگور، انار، پیاز، کچالو او یوشمېر نور محصولات شامل دي خوندي شوي او عمرېې اوږد شوي دي.

په همدې حال کې، د کرنې وزیر ډاکټرانوارالحق احدي د کرنیزو محصولاتو مدیریت د برنامې او د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژې له مشرتابه او کارکوونکو څخه د قدردانۍ او مننې ترڅنگ وویل، چې یادې پروژې په لږه موده او غیرنورمال حالت او کرونایي حال کې، د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې پلي شوي دي، چې له شک پرته اغېزمنتوب یې ډېر دي.

ښاغلی احدي وویل، چې د یادو پروژو دطرحې او چارو په پرمختگ کې نوښت شتون درلود، چې په لږه موده کې، د هېواد په کچه د کرنیزو محصولاتو ساتنې په پار ډېرې ودانۍ جوړې شوي دي.

دکرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزیر په ۱۴۰۰ام مالي کال کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې لپاره د بودیجې د زیاتولو غوښتنه وکړه او په ورته وخت کې، د خپلو لارښوونیزو نظریاتو وړاندې کولو ترڅنگ، سپارښتنه وکړه، چې په ۱۴۰۰ام مال کال کې د پروژې د پروخت پلي کېدو په پار په مرکز او لایتونو کې هغږی زیاتې او چټکې شي.



## د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژه د انگورو د ۲۰۰ جریبه بڼونو سیستم چیله یې کوي

د کرنې وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژه په پام کې لري، چې د ۱۴۰۰ام مالي کال په ترځ کې د انگورو د ۲۰۰بڼونو سیستم چیله یې کړي.

د یادې پروژې چارواکي وایي، چې یاده برنامه د لوگر، کابل، پکتیکا او غزني ولایتونو کې پلي کیږي.

په چیله یې سیستم سره د انگورو ونو پالل، د بڼوالۍ نوي معیاري لارې چارې دي. په دې سیستم کې د ناروغیو کنټرول، دوا پاشي، ښاخ برې، د انگورو ټولولو او اگروتخنیک چارې په اسانه ترسره کیږي او دغه راز هوا په اسانۍ سره د تاکونو ترمنځ جریان پیدا کوي او د انگورو تاکونو ټولو برخو ته په کافي اندازه د لمر وړانگې هم رسیږي، چې په پایله کې یې مېوه باکیفیته او ښه رنگ ځان ته غوره کوي.

دا برنامه د اسیایي پراختیایي بانک (ADB) په ملاتړ او دکرنې وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژې (HVCDSP)له لارې، د ۱۴۰۰ام مالي کال په ترځ کې پلي کیږي.

تردې وړاندې هم د کرنې وزارت او همکارو پروژو له خوا د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د انگورو سلگونه جریبه بڼونه په چیله یې سیستم سمبال شوي دي.



## لغمان کې د جوارو کښت او حاصلات ډېر شوي

د لغمان ولایت د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې په یاد ولایت کې د جوارو کښت او حاصلات نورو کالو ته په کتو زیات شوي دي.

د لغمان د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رییس محمد جمیل خوشحال وایي، چې سږ کال ددې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې په یو زره او۵۰ هکتاره ځمکه کې جوار کرل شوي وه، چې له دغو کروندو څخه شاوخوا دوه زره او ۲۰۵ ټنه جوار تولید شوي دي.

د ښاغلي خوشحال په خبره پورتنۍ شمېرې د تېرکال په پرتله په دې ولایت کې د جوارو د حاصلاتو زیاتوالی ښیي، چې د زیاتوالي لاملونه یې د کښت د سیمو ډېرښت، د موسمي ناروغیو او افاتو کمښت، په بازارونو کې د جوارو بیو لوړېدل، په ترویجي ډول د جوارو کرکېله او لهکروندگرو سره هر اړخیزې همکارۍ یادوي.

لغمان د هغو ولایتونو په ډله کې ده، چې د بېلابېلو کرنیزو توکو د کرکېلې لپاره مناسبه هوا لري په دې ولایت کې تر ډېره غنم، جوار او نور ډول ډول کرنیز توکي کرل کیږي، چې ښه پایلې هم ورکوي.



## روایت یک بانوی بی‌سرپرست که حالا خودش سرپرست است:

# نور خورشید به زنده‌گی سکینه رونق بخشید



✍ صدیق خالد
کارمند ارتباطات «CPMO»

سکینه عسکری، ۲۸ سال دارد و در روستای قلعه‌ی میانه، ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان زنده‌گی می‌کند. حدود دو سال قبل سکینه شوهرش را در اثر مریضی‌ای از دست داد و تمام مسوولیت‌های خانواده، به ویژه همه مصارف برای امرار معیشت خانواده، به سکینه واگذار شد. او حالا با دستگاهی که وزارت زراعت برایش داده، با نور خورشید میوه و سبزی‌ها را خشک می‌کند و می‌فروشد و زنده‌گی‌اش رنگ و رونق خوبی دارد.

داستان این گونه است که پس از فوت شوهر، بانو سکینه با مشکلات اقتصادی فراوان دست‌وپنجه نرم می‌کرد، اما سال قبل از سوی پروژه‌ی سکتوری انکشاف زنجیره‌ی ارزش باغداری وزارت زراعت، یک پایه خشک‌کننده آفتابی میوه و سبزی به وی کمک شد. او با خشک نمودن میوه‌ها و سبزیجات تازه و فروش آن در مارکیت‌های محلی بامیان، توانست اقتصاد خانواده‌اش را رونق ببخشد و نیز یک تجارت خوب را برای خود فراهم کند.

خشک‌کننده‌ی آفتابی، دستگاهی است که برای خشک ساختن سبزیجات و میوه‌جات تازه استفاده می‌شود و انرژی مورد نیازش را از خورشید فراهم می‌کند و در سال مالی ۱۳۹۹، از سوی پروژه‌های وزارت زراعت، برای بیش از هزار خانم توزیع شده است.

سکینه عسکری که یکی از مستفیدشونده‌گان این دستگاه‌ها است. سکینه می‌گوید: «زمانی که شوهرم حیات داشت، اصلاً به کار کردن و تولید مواد خشک زراعتی فکر نمی‌کردم اما پس از وفات شوهرم ناگزیر شدم تا به منظور امرار معیشت، کاری را انجام دهم ولی به نسبت نبود کار خوب در ولایت بامیان نمی‌توانستم تمام نیازمندی‌های خانواده‌ام را تامین نمایم؛ به ویژه در شش ماه اول با مشکلات فراوان مواجه شدم تا این‌که از طریق ریاست زراعت ولایت بامیان با پروژه سکتوری انکشاف زنجیره ارزش باغداری «HVCDSP» تماس گرفتم و خواستار یک دستگاه خشک‌کننده آفتابی میوه و سبزی شدم. خشک‌کننده‌ای به من داده شد، در یک وقت از ۵۰ تا ۷۰ کیلو گرام محصولات تازه زراعتی را در سه تا پنج روز خشک می‌کند.» سکینه می‌افزاید: «از روزی که خشک‌کننده آفتابی برایم کمک شده است، زنده‌گی ما از لحاظ اقتصادی پررونق شده، قسمی که رومی، سیب، زردآلو و انواع سبزیجات و میوه‌جات تازه را خریداری کرده و بعد با استفاده از خشک‌کننده آفتابی، این محصولات را خشک می‌کنم و در بازارهای محلی بامیان با قیمت مناسب به فروش می‌رسانم که با این کار، عاید قابل ملاحظه‌ای به دست می‌آوریم.»

در کل خشک‌کننده‌های آفتابی از یک طرف به زنان تهی‌دست کمک می‌کند تا اقتصاد خانواده‌ی‌شان را بهبود ببخشند و از سوی دیگر از ضایع شدن محصولات زراعتی تا حد ممکن جلوگیری کنند.

پروژه‌ی سکتوری انکشاف زنجیره‌ی ارزش باغداری «HVCDSP»، حدود ۲۱ دستگاه خشک‌کننده آفتابی را در ولایت بامیان به زنان تهی‌دست توزیع کرده است که هم برای این زنان زمینه‌ی کار فراهم شده و هم‌چنان از فرسوده شدن محصولات تازه زراعتی جلوگیری می‌کند.

پروژه‌ی سکتوری زنجیره‌ی ارزش باغداری، که در کنار دیگر فعالیت‌هایش، این خدمات را برای بانوان تهی‌دست عرضه می‌کند، از سوی بانک انکشاف آسیایی «ADB» تمویل می‌شود.

له لومړی مخ څخه

## د کرنې وزیر:

# د افغانستان د اساسي قانون مدني ارزښتونه یوازې د پرمختللو هېوادونو په قوانینو کې موندلی شو

.... د هغه په خبره، که له قانون څخه په سمه توګه پیروي ووشي، ژوند یې تضمین کیږي. ښاغلی احدي وویل: «ددې لپاره چې قانون لاډېر ژوندي وساتو او ددې لپاره، چې خپل حرکات د قانون سره سم جوړ کړو، زما په اند د قانون په اړه خلکو ته پوهاوی ورکول ډېره اړینه ده.»

د کرنې وزیر په ورته وخت کې ټینګار وکړ، چې اساسي قانون د کرنې وزارت ته هم مسوولیتونه متوجه کړي دي او یاد وزارت د قانون مطابق یې پلي کېدو ته ژمن دی.

دغه راز د کرنې په وزارت کې د پلان او برنامو د همغږۍ مسوول شکیب شریفي هم وویل، چې د کرنې وزارت د تقنین آمریت په نوم یوه برخه لري او یاد امریت مسوولیت لري، چې ددې وزارت اړوند ټولې پالیسۍ، مقررې، لوایح او قوانین د عدلیې وزارت سره په همغږۍ د مورقانون پر بنسټ طرحه او تنظیم کړي.

ښاغلي شریفي وویل، چې د کرنې وزارت اړوند بېلابېل قوانین، مقررې، اساس نامې، کړن لارې، لایحې او پالیسۍ ۱۱۴ سندونو ته رسیږي، چې له دې ډلې ۷۲ سندونه یې نافذ او ۴۲ نور سندونه پیس نویس شوي دي.

د کرنې په وزارت کې د اساسي قانون د تصویب په لمانځغونډه کې، د اساسي قانون د پوهاوی او اړیکو ډیپارټمنټ متخصص محمدخلیل قیامي، پر اساسي قانون د څار کمیسسون د مشرتابه پیغام ولوست. په دې پیغام کې، پر اساسي قانون د څار کمیسیون مشرتابه، اساسي قانون د سیاسي نظام بنسټ او مبنا او دغه راز د قواوو د تفکیک، حقوق او وجایبو او د ټولو قوانینو زېربنا یاد کړئ دی.

نوی اساسي قانون د ۱۳۸۲ لمریز کال د لیندۍ له ۲۲ څخه د مرغومې تر ۱۴ نیټې پورې په کابل کې د جوړې شوي لویې جرګې لخوا په ۱۲ فصلونو او په ۱۶۲ مادو کې د رایو په اتفاق تصویب شوه.

له لومړی مخ څخه

# کندهار کې د زون په کچه د لوی کرنیز کمپلیکس د بنسټ ډبره کېښودل شوه

... ډبره کېښودل شوه. ددې کمپلیکس د بنسټ ډبرې له اېښودو وروسته ولسمشر غني دغو مراسمو ته په وینا کې وویل؛ نن ویاړمنه ورځ ده چې د افغانستان د کرنې په سکټور کې د لوی بدلون شاهد یو. ددې کمپلیکس له چارواکو، همکارانو او ټولو هغو کسانو څخه چې، په دې برخه کې یې هلې ځلې کړي دي مننه او قدرداني کوم، زه ویاړم چې د حکومت او پانګوالو ژبه سره یو ده او حکومت به تل د خصوصي سکټور او پانګوالو ملاتړ کوي. ولسمشر وویل، چې د یاد کمپلیکس په جوړېدو سره به شته ستونزو لپاره حل لار ولرو او ترڅنګ یې زرګونو کسانو ته به په کې د کار زمینه هم برابره شي.

ولسمشر غني وویل، د کندهار کرنیز کمپلکس جوړونکو سعید او وزیرزي ته به مډالونه او د کرنې وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري ته به لومړۍ درجه تقدیرنامه ورکړل شي.

هر څوک چې له۵۰ میلیون ډالرو زیاته پانګونه وکړي، د نورو اسانتیاوو ترڅنګ به په جمهوري ریاست کې جوړېدونکې یادګاري ځلې کې د هغوی نومونه ولیکل شي.

د هېواد ولسمشر څرګنده کړه، اقتصادي عالي شورا به د هېواد د هر زون په اقتصادي مسایلو بحث وکړي او په نورو زونونو کې به هم دېته ورته کمپلکسونه جوړ شي.

هغه په ټینګار سره وویل، د ستونزو د حل عملي لاره باید موجوده وي او د پانګونې پر وړاندې ستونزې او خنډونه د منلو وړ نه دي. د ګمرکونو د ښه مدیریت لپاره نړیوالو شرکتونو سره په مذاکره کې یوو.

ولسمشر وویل، د واضح طرحې په اساس باید پیسې په پانګه بدلې او د بزګرو، ښوالو او ټولو عواید په اساسي توګه لوړ شي. د اوبو د مدیریت او ځمکنیو کوریډرونو چارې ادامه لري. هغه زیاته کړه، د کندهار په هوایي ډګر اساسي پانګونه کېږي، نو په دې اړه خپل مشخص وړاندیزونه شریک کړئ. ټاپي او ټپ پروژې به په لوی کندهار کې د عظیم بدلون لامل شي

په همدې حال کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر انوارالحق احدي دغې غونډې ته د وینا پرمهال ولسمشر او ټولو هېوادوالو ته د کندهار کرنیز کمپلیکس مبارکي وویله. هغه زیاته کړه، ولسمشر د اقتصادي ودې د اصل په توګه د ارزښت ځنځیر په بشپړولو ټینګار کړی او دا کمپلیکس یې ښه بېلګه ده.

ډاکټر احدي وویل، دا کمپلیکس هغه پرمختللې مفکوره ده چې د فکر او سوداګرۍ پوخوالی ښیي او د افغانستان د کرنې زیاتو ستونزو ته یې حل لارې وړاندې کړې دي. د دغه کمپلیکس له لورې بزګرو ته د ماشینري او پورونه ورکړه، داخلي پروسس او معیاري محصولاتو له امله په نړیوالو بازارونو کې د هغو ارزښت او داخلي عواید لوړېږي چې د هېواد پرمختګ کې به رول ولري او حکومت د کرنیزو صنایعو ملاتړ کوي.

د کرنې وزیر ډاکټر انوارالحق احدي زیاته کړه، چې ددې کمپلیکس په جوړېدو سره به د داخلي پروسس ارزښت زیات شي، نړیوالو معیارونو ته به تصدیق ورکوي، د محصولاتو د اخېستلو تضمین به کوي او کرنیزه میکانیزه به زیاته، نړیوالو بازارونو ته به حاصلات ورکوي او یو بریالی تشبس به وي، چې ورسره به کاري بوختیاوې هم رامنځته شي.

په دې پار جوړه شوې غونډې ته د کرنې وزارت د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري، چې په غونډه کې یې په حضوري بڼه ګډون درلود؛ د یاد کمپلیکس په تخنیکي برخه خبرې وکړې او ویې ویل، چې د کندهار کرنیز کمپلیکس دهېواد په کچه د کرنې د پراختیا په برخه کې یوازېنی او لومړنی ترټولو لوی مرکز ده، چې نږدې ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره پانګونه وربانديې کېږي.

ښاغلی غفوري وویل، چې د کندهار د کرنیز کمپلیکس په جوړېدو سره به د افغانستان په سوېل په ځانګړې توګه د کندهار، هلمند او د یادو ولایتونو ګاونډېو ولایتونو لپاره د کرنیزې سوداګرۍ یوه اډانه جوړه شي، چې د یادو ولایتونو کرنیز سوداګر او بزګران به ورڅخه ګټه پورته کوي او په شپړو پړاوونو کې به بشپړ شي.

د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال څرګنده کړه، چې نومړی مرکز به د بزګرانو او په ټوله کې د کرنې سکټور اړونده خواوو لپاره د تخصصي مالي امکاناتو او د صادراتو لپاره د محصولاتو د ارزښت لوړولو د ټولو چوپړتیاوو په درلودلو سره یو بشپړ مرکز وي.

ورپسې د افغانستان د خونو فدراسیون رییس محمداسماعیل غضنفر له ولسمشر څخه د خصوصي سکتور د همېشنې ملاتړ مننه وکړه او وې ویل، په دا وروستیو شپږو کالو کې پانګوالو او صنعتکارانو ته زیاته پاملرنه او لازمې اسانتیاوې برابرې شوي دي.

د کندا فروټ کمپنۍ رییس جلال الدین سعید ولسمشر څخه په مننې وویل، د کندهار کرنیز کمپلکس د جوړولو طرحه مو ستاسو په مستقیمه لارښوونه جوړه کړې. هېوادوال به ډېر ژر ستاسو د دې او نورو طرحو او برنامو عملي پایلې چې د دوی د هوساینې لامل شي، وګوري .

یاد کمپلیکس د کندهار ولایت مرکز عینو مېنې د صنعتي ښارګوټي په ۱۱۰۰ جریبه ځمکه کې د حکومت په ملاتړ د خصوصي سکټور له خوا جوړېږي.

باید وویل شي، چې یاد کمپلیکس به د کرنیزو محصولاتو د پروسس او بسته بندۍ، د کرنیزو محصولاتو صنعتي فابریکې، سوداګریزه کرنه او ښوالۍ، د لبنیاتو ځنځیري ارزښت،د څارویو بشپړ ځنځیري ارزښت، د لومړنیو توکو تصفیه خونې او تولیدي فابریکو څړنیزې برخې په درلودلو سره ګڼو خلکو ته کاري بوختیاوې هم برابرې کړي.



شجاع‌الحق نوری
گزارش‌گر

# یک سال و دو فصل حاصل:
# ساخت ۲۳ جریب باغ لیمو در کنر



پروژه زنجیره ارزش باغداری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، ۲۳ جریب باغ تجارتی لیمو در کنر ساخته است و این باغ‌ها در یک سال، دو فصل حاصل می‌دهد.

یوریکا، یک نوع لیمو است که باغ‌های تجارتی آن در دو ولسوالی خاص کنر و سوکی در سال ۱۳۹۹ ساخته شده است. در این باغ‌ها بیش از سه‌هزار و ۲۰۰ نهال لیمو کاشت شده است. این باغ‌ها به صورت تجارتی برای ۱۶ نفر از باشنده‌گان کنر ساخته شده است.

سراج‌الدین یک تن از باشنده‌گان قریه بابر ولسوالی سوکی که از مستفیدشونده‌گان این پروژه است. او می‌گوید: «پنج جریب زمین از سوی این پروژه برایم باغ جور شده، لیموی نوع یوریکا است، این میوه در گذشته نیز در کنر آزمایشی کشت شده بود، دو فصل حاصل می‌دهد، در این باغ با من پنج نفر کار می‌کنند و با آرزوی بلند، باغ را ساخته‌ایم، چون فایده آن زیاد است. از همکاری کارمندان سکتور زراعت کنر نیز تشکر می‌کنیم که همراه ما همکاری می‌کنند و در موارد لازم برای ما مشوره داده و وسایل حفاظت از باغ را نیز می‌دهند.»

مسوولان پروژه زنجیره ارزش باغداری می‌گویند که زون شرق برای ساخت باغ‌های لیمو مساعد است. محمدیونس صافی کارمند پروژه ارزش باغداری در کنر می‌گوید: «در دو ولسوالی کنر باغ لیموی یوریکا را ساختیم، ۱۶ جریب در خاص کنر و هفت جریب در سوکی، هم‌چنان وسایل، لباس و کود را نیز به باغداران توزیع کردیم تا از درختان‌شان خوب حفاظت کنند، هفته‌ای دوبار از باغ‌های‌شان دیدن می‌کنیم تا مشوره‌های لازم را برای باغداران بگوییم تا باغ‌ها خراب نشوند.» به گفته آقای صافی، در گذشته این میوه آزمایش شده و دو فصل حاصل داده است. او گفت: «این باغ‌ها را ساختیم و پلان داریم باغ‌های دیگر را نیز برای باشنده‌گان کنر در سال‌های بعدی بسازیم.»

محمدیعقوب گلزی مسوول برنامه‌های پروژه‌ی سکتوری زنجیره‌ی ارزش باغداری، HVCDSP، در زون شرق می‌گوید این باغ‌ها به منظور خودکفایی و تشویش باغداران به این میوه پر درآمد ساخته شده و احداث باغ‌های ستروس در سال‌های بعدی نیز ادامه می‌یابد. او گفت: «در سال ۱۳۹۹ موفق شدیم ۱۱۰ جریب زمین را در مشرقی باغ ستروس بسازیم، کنر یکی از ولایاتی است که از پروژه‌های ما مستفید شده و در آن‌جا باغ‌های لیمو ساختیم، نتیجه‌ی آن بهتر بود و در سال اول بعضی از درختان لیمو حاصل داد، در سال‌های بعد که حاصل بدهد، کمک بزرگی برای مردم می‌کند در قسمت اشتغال‌زایی و درآمد مردم، هم‌چنان میوه باکیفیت داخلی تهیه می‌شود.»

آموزش باغداران، توزیع وسایل، لباس و کود از فعالیت‌های دیگر این پروژه است که برای باغداران کمک می‌کند.

# کارکردهای ریاست زراعت سرپل در ۱۳۹۹



حشمت الله حبیبی
گزارش‌گر

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت سرپل، می‌گوید در سال جاری خورشیدی ۴۰ هزار و ۳۲۶ نهال بهاری جهت ساخت ۶۱۱ جریب باغ معیاری برای حدود ۳۵۰ باغدار توزیع شده و همین طور ۱۰ هزار نهال بومی برای مکاتب، مساجد و ادارات دولتی آماده شده است.

هم‌چنین این ریاست می‌افزاید که پنج هزار و ۲۸۰ نهال برای ساخت باغ‌های متراکم به ۱۲ باغدار واجد شرایط جهت غرس آن در ساحه ۱۲ جریب زمین توزیع شده است.

محمدسلیم رنجبر رییس زراعت سرپل، می‌گوید که امسال ۱۵ مزرعه‌ی نمایشی سویابین در مرکز و ولسوالی‌ها ساخته و هم‌چنان برای ۱۰۸ دهقان در مورد کشت، برداشت و رفع حاصل نباتات تیلی آموزش داده شده است. او گفت ۲۹۳ متریک تن تخم اصلاح شده گندم هم به پنج هزار و ۸۶۰ دهقان توزیع و ۱۴ مزرعه‌ی نمایشی گندم به سیستم جدید قطاری ساخته شده است.

آقای رنجبر افزود که به منظور گسترش کشت زعفران نیز ۱۵.۸ متریک تُن پیاز زعفران با بسته‌های زراعتی برای ساخت ۳۲ مزرعه‌ی نمایشی به دهقانان پیش‌قدم توزیع و ۱۳۶ تن از زعفران‌کاران آموزش داده شده است.

وی علاوه کرد که ساخت یک گدام با ظرفیت ۲۵۰ متریک تن برای نگهداری دواهای نباتی، ساخت یک بخش ترویجی پنج اتاقی، کنترل و پاک‌سازی ساحه دوهزار و ۱۰۰ هکتار زمین ملخ، پاک‌کاری یک‌هزار و ۲۰۰ هکتار زمین پالیز از وجود مگس خربزه و پاک‌سازی ۸۰ هزار درخت از وجود مرض قرغنه نیز شامل فعالیت‌های سال جاری خورشیدی ریاست زراعت سرپل است. امسال دو ذخیره‌گاه آب نیز در سرپل ساخته و دو چاه عمیق در فارم مرکزی جنگل‌باغ آن ولایت حفر شده است.

همین گونه برای ۳۰ خانم زراعت‌پیشه سبزخانه توزیع شده و همین‌طور هشت خانم دیگر در بخش‌های مختلف زراعتی آموزش دیده‌اند. به ۶۲۰ خانم زراعت‌پیشه نیز تخم سبزیجات توزیع شده و حدود ۹۰ هزار حیوان کوچک خانه‌گی در مرکز و ولایات سرپل در برابر بیماری بروسلوز و طاعون واکسین شده‌اند.



هم‌چنین امسال از طریق برنامه‌ی مدیریت محصولات زراعتی ۱۵۰ ذخیره‌گاه پیاز، ۲۸۰ کشمش‌خانه، ۲۰ سردخانه سیب و ۷۰ ذخیره‌گاه کچالو در ولایت سرپل ساخته شده است. هم‌چنین از طریق این برنامه ۶۰ دستگاه آفتابی خشک‌کننده‌ی سبزیجات و میوه‌جات تازه نیز به زنان توزیع شده است.

همین‌طور به کمک دفتر حمایت از کودکان نیز چهل باغ برای چهل باغدار پیش‌قدم در چهل قریه در سرپل ساخته شده و ۲۲۵ متریک تن کود سفید و ۲۲۵ تُن کود سیاه و هم‌چنین ۲۲۵ تُن تخم اصلاح‌شده‌ی گندم به همکاری مؤسسه «اکتید» به چهار هزار و ۵۰۰ دهقان توزیع شده است.

# معرفی پروژه‌ی اضطراری زراعت و مصونیت غذایی:
# ۱۰۰ میلیون دالر برای کاهش آسیب‌های ناشی از کووید-۱۹ در دو سال



شفیق‌الله نوری
گزارش‌گر

پروژه اضطراری زراعتی و تأمین مواد غذایی : (Emergency Agriculture and Food Supply Project)
این پروژه به منظور مصونیت غذایی و مجادله علیه فقر پس از به میان آمدن پاندمی کرونا، به حمایت مالی بانک جهانی و صندوق بازسازی افغانستان آغاز شده است که ساحه‌ی کاری آن در ۳۴ ولایت افغانستان، زیر چتر شش زون می‌باشد.
این پروژه برای دو سال با بودجه مجموعی ۱۰۰ میلیون دالر امریکایی که ۴۵ میلیون دالر آن از بخش صندوق بازسازی افغانستان (ARTF) و ۵۵ میلیون دالر آن از بانک جهانی پرداخت می‌گردد، تمویل می‌شود.
این پروژه به هدف حمایت از بهبود سیستم‌های آبیاری و تقویت زنجیره‌ی تولید مواد غذایی در کشور فعالیت می‌نماید تا مشکلاتی را که از اثر بحران کووید-۱۹ یا کرونا به میان آمده، کاهش دهد.
شاخص‌های کلیدی این پروژه شامل سه بخش می‌شود که عبارت از:
۱- بلند بردن ۱۵ درصدی حاصلات گندم در ساحات تحت پوشش پروژه،
۲- بهره‌مند ساختن ۶۰۰ هزار دهقان از بسته‌های تخم اصلاح‌شده‌ی گندم به خاطر افزایش تولید
۳- تهیه وسایل و ابزار زراعتی برای ۲۲ هزار خانم زراعت‌پیشه در ۳۴ ولایت.

**ایجاد شغل**

در بخش اشتغال‌زایی نیز، این پروژه پنج میلیون روز کاری را در ۳۴ ولایت فراهم می‌سازد که شامل ایجاد ۱.٦ میلیون روز کاری در احیا و بازسازی کانال‌های آبیاری در ۳۴ ولایت کشور و ایجاد ۳.۴ میلیون روز کاری در مدیریت آب‌ریزه‌ها نیز در ۳۴ ولایت کشور می‌گردد.
فعالیت‌های اساسی این پروژه در سه بخش متمرکز است که شامل ساخت سیستم‌های موثر آبیاری زراعتی، مدیریت زنجیره تامین مواد غذایی و مدیریت پروژه می‌باشد:

**بخش اول:**

سیستم‌های موثر آبیاری زراعتی
• احیا و بازسازی کانال‌های آبیاری: که (۳۸.٦ میلیون دالر) بودجه دارد و همچنان در حدود (۱۸۰) کانال آبیاری احیاء می‌گردد که (۴۵) هزار هکتار زمین را تحت پوشش قرار می‌دهد.
• مدیریت آب‌ریزه‌ها: که ۲۷.۱ میلیون دالر بودجه دارد و حدوداً ۴۰ هزار هکتار زمین را تحت پوشش قرار می‌دهد.

**بخش دوم:**

مدیریت زنجیره‌ی تأمین مواد غذایی با هزینه‌ی ۲٦.۴ میلیون دالر
• تولید، تهیه و توزیع تخم اصلاح شده با بودجه‌ی ۱٦.۴ میلیون دالری.
• کمک مالی و همکاری تخنیکی با ریاست تحقیقات جهت تولید تخم مادری (Breeder Seed)
• تهیه و توزیع ۳۰ هزار متریک تن تخم اصلاح شده برای ٦۰۰ هزار دهقان در ۳۴ ولایت کشور در مدت دو سال که امسال ۱۴هزار متریک تُن تخم اصلاح‌شده گندم، به هزینه ٦۸۹ میلیون افغانی از اتحادیه‌ی تولیدکننده‌گان تخم‌های اصلاح‌شده خریداری شده است و به دهقانان در سراسر کشور توزیع می‌شود، با توزیع این تخم‌ها، میزان حاصلات گندم ۲۰ تا ۳۰ درصد افزایش خواهد یافت و هم‌چنان ۲۸۰هزار دهقان در سراسر کشور به صورت مستقیم و ۱۴۰هزار دهقان دیگر به صورت غیرمستقیم مستفید خواهد شد.

**حمایت از پروسس مواد غذایی و توزیع آن با بودجه‌ی ۱۰ میلیون دالر**

همکاری تخنیکی و ارتقای ظرفیت انجمن آسیاب‌های آرد
و ساخت هزار ذخیره‌گاه کوچک صفر انرژی برای سیب، پیاز، کچالو و کشمش .

**بخش سوم:**

مدیریت پروژه: در کل مدیریت این پروژه ۷.۹ میلیون دالر بودجه دارد و از طریق آن روی تطبیق دیگر برنامه‌ها کار می‌شود.
تشکیل کارمندان پروژه:
حدود ۴۰۰ تن از متخصصان در بخش‌های مختلف پروژه جهت کمک و همکاری به دهاقین در چهارچوب وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، استخدام

# شش راه‌کار ساده و مؤثر برای جلوگیری از سرمازده‌گی درختان میوه در زمستان



محمدسالم ساعی
رییس زراعت ولایت‌بلخ

۳. در زمستان امسال به خصوص در دو هفته آینده، درجه‌ی حرارت از طرف شب و روز در بسیاری از مناطق سردسیر کشور، زیر منفی هفت تا ۱۵ خواهد بود. تداوم این سردی روی همه‌ی درختان میوه به ویژه انار، انجیر، سیب، شفتالو، تاک‌های انگور، خرمالو و بادام اثر منفی می‌گذارد و امکان خشکیدن شاخه‌های ضعیف و نازک بیش‌تر می‌شود.
۴. بناً باغدارن می‌توانند از این چند روش ساده و مؤثر برای جلوگیری از سرمازده‌گی درختان‌شان کار بگیرند:
۵. مقداری کاه، پخال، گیاه هرزه و یا پاروی خشک حیوانی و علف‌های خشک شده که در حیاط باغ و خانه در دسترس است را از طرف عصر در مسیری که باد می‌وزد آتش بزنند. شعله‌ی آتش نهایت خفیف باشد که بیش‌تر دود ایجاد گردد تا دود در همه‌ی محوطه باغ بپیچد.
۶. با جاروب برف‌ها و کریستال‌های برفی را از شاخچه‌های درختان پاک کنید.
۷. شاخچه‌های ضعیف و شکسته را از ساقه اصلی قطع کنید که با فشار بیش‌تر برف می‌شکند و سبب تخریب دیگر شاخه‌ها می‌شود. درختان را با آهسته‌گی تکان دهید تا برف در شاخچه‌ها باقی نماند.
۸. از شاخه‌بُری به منظور شکل دادن درختان هسته‌سنگی و گوشتی در سرمای شدید، اجتناب کنید.
۹. برگ‌های خشک شده که در شاخچه‌ها باقی مانده‌اند را بچینید و آتش بزنید. این کار باعث کاهش امراض و آفات در سال پیش رو می‌شود. هم‌چنان در زمان برف‌باری‌ها بالای شاخچه درختان برف ایستاد نمی‌شود.



۱۰. اگر عملیه روغن زمستانی، یا **Winter Oil Treatment** را تا کنون انجام نداده‌اید با مساعد شدن هوا اقدام کنید و به منظور مشورت با مدیریت‌های حفاظت در ریاست‌های زراعت مراجعه کنید و در سطح ولسوالی‌های از مشورت مدیران خدمات زراعتی مستفید شوید.

# ننگرهار کې د رومي بانجانو کروندې او تولید په زیاتېدو دي

د ننگرهار ولایت د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې په یاد ولایت کې د رومي بانجانو کروندې او تولیدات زیاتې شوي دي او کال تربلې رومي بانجانو او سبو کرکېلې ته د کروندگرو لېوالتیا زیاتیږي.
د ننگرهار د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې په دې ولایت کې د رومي بانجانو او نورو سبو د کرکېلي د پراختیا او تولید زیاتوالي په پار هلې ځلې کوي، چې دا هلې ځلې ددې لامل شوې، چې سږکال په دې ولایت کې د رومي بانجانو تولیدات زیات شي.
د کرنې وزارت د ۱۳۹۸ یم کال د احصایې ریاست مالومات ښیي، چې تېرکال د دې ولایت په ۱۱۰۷ هکتاره ځمکه رومي بانجان کرل شوي وو چې د تولید کچه یې تر ۲۷ زره او ٦۷۵ متریک ټنو ته ورسېد. خو سږکال ددې ولایت د رومي بانجانو کروندې او تولیدات د تېرکال په پرتله زیاتي دي.
د ننگرهار په ولایت کې د شنوخونو په بڼه هم د رومي بانجانو او یوشمېر نورو سبو او ترکاریو کرکېله کیږي او په پراخه کچه پېرېدونکي او مشتریان لري.
د ننگرهار ولایت د رومي بانجانو او نورو ترکاریو د مارکېټ غوښتنې ته په کتو په دې وروستیو کې دکرنې وزارت د پرمختیایي برنامو او پروژو له لارې په دې ولایت کې د سبو او ترکاریو د تولیداتو زیاتوالي او د کرکېلي د نویو لارو چارو دودولو په پار د ولایت په کچه ۸۴۲ لویې او وړې شنې خونې هم جوړې شوي دي، چې د نورو ترکاریو ترڅنگ په دغو شنوخونو کې رومي بانجان هم کرل کیږي او په دې سره ددې ولایت د رومي بانجانو تولیدات زیات شوي دي.
د ننگرهار په شنوخونو کې تولید شوي رومي بانجان، گټېور، خوندور او په مارکېټ کې یې بیې ارزانې دي، په همدې موخه ورځ تربلې یې پېرېدونکي زیاتیږي.
د ننگرهار د کرنې ریاست ددې ولایت د سبو او ترکاریو د تولیداتو زیاتوالي او د بزگرانو د ملاتړ په پار په هر برخه کې له بزگرانو سره هراړخیزې مرستې او همکارۍ کوي، ترڅو له یوې خوا د یادو کرنیزو توکو تولیدات ډېرشي او له بلې خوا د بزگرانو اقتصادي ودې ته هم زمینه برابره شي.

# کندهار کې د مالدارۍ سکټور ورځ تربلې مخ پر وده ده



نورالله پتمن
خبریال



کندهار د هېواد د هغو ولایتونو په ډله کې دی، چې د کرنې او مالدارۍ لپاره مناسبه ځاپېریال لري. دا چې کندهار یو له سمسورو ولایتونو څخه دی، نو ډېری خلک یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، د بېلابېلو سبو، غلو دانو او مېوو د تولید ترڅنګ، په دې ولایت کې د مالدارۍ صنعت هم غوړېدلی، چې ورسره په دې ولایت کې د لبني محصولاتو د تولید کچه هم لوړه شوې ده.

د کندهار د کرنې او مالدارۍ ریاست د مالوماتو له مخې په دې ولایت کې د دودیزې مالدارۍ ترڅنګ د غوا روزنې ٦١٨ فارمونه، د شاتو مچیو ۵۲ فارمونه، د کبانو روزنې او تولید یوزرو ٦٠٠ فارمونه او د غوښینو چرګانو یوزرو ۱۷۰ لوی او واړه فارمونه فعالیت لري.

دکندهار د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې په کندهارکې یوازې په فارمونو کې د اټکل له مخې ٤٦ زره ډول ډول غواوې روزل کیږي، چې تر ټولو غټ فارم یې شاوخوا ۳۰۰ راسه غواوېلري. ددې ولایت د مالدارۍ د برخې د چارواکو په خبره، په یاد ولایت کې د مالدارۍ د فارمونو تاریخي مخینه ۵۷ کالو ته رسیږي.

له یادو فارمونو څخه د ورځې ۱۰۰ زره لیټره شېدې، دکال نږدې ۲۵ ټنه شات او د کال له ۳۵۰۰ څخه تر څلور زره ټنو پورې د کبانو غوښې، چرګان او هګۍ تولیدیږي.

همدا راز د کندهار دکرنې ریاست د مالدارۍ امریت سره ۳٦٠ دلبنیاتو مرکزونه، څلور د پروسس فابریکې او ٦۳۲ لوی او کوچنې فارمونه ثبت دی؛ چې له دې ډلې نوموتی هغه یې د مېلکو فابریکه ده، چې په لسګونه ډوله لبني توکي لکه، شیدې، مستې، شړومبې، کوچ، پیروی، شیرپېره، ایسکریم، فرنې، شیربرنج اونور ډول ډول لبني توکیتولیدوي.

د کندهار د کرنې ریاست وایي چې د مالدارۍ سکټور د پیاوړتیا په موخه یې ګڼې روزنیزې برنامې، عامه پوهاوی د مالدارۍ د برخې اړونده توکي او د ناروغیو او افاتو د مخنیوي په پار د دوا او درملو وېشل هغه څه دي، چې د مالدارۍ وضعیت ور سره بدل شوی دی.

ډېری کندهاریان د مالدارۍ ګټه ښه بولي او وایي که چېرته دغې برخې ته لا پاملرنه وشي، محصولات یې په بازر کې په ښه بیه وپلورل شي نو د دوی کاروبار په ورسره وغوړیږي.

فضل محمد د کندهار د ډنډ په ولسوالۍ کې د مالدارۍ په فارم کې له تېرو پنځو کالو راهیسې کار کوي، هغه تر ۷۰ پورې ډول ډول غواوې په خپل فارم کې روزي، چې مالدارۍ یې په ورځینې ژوند ښه اغېزه کړې ده، او ګټه یې خورا ښه بولي. نموړی وایي، چې که د مالدارۍ سکټور ته لا اسنتیاوې برابرې شي ورسره د دوا او درملو تر څنګ نورې ګڼې مرستې وشي نو په ژوند او مالدارۍ کې به یې لا بدلون راشي او له دې لارې به د مالدارۍ په برخه کې شته خنډونه یو څه راکم شي.

د کندهار نور فارم لرونکي هم د خپل اقتصادي وضعیت په ښه کېدو کې د دولت پاملرنه او مرسته اړین بولي. دوی وایي، چې د وطنې لبنیاتو د ودې په پار دې باید د بهرني لبني محصولاتو د وارداتو مخه ونیول شي او د وطنې لبنیاتو د ودې او زیاتوالي په پار دې باید هېوادوال او امنیتي او ملکي ادارو وطني لبنیات وپېرې او په دې برخه کې د تړونونو د لاسلیک زمینه برابره شي. همدارنګه فارم لرونکي له دولته غواړي، چې دوی سره دې دڅارویو خوراکي لپاره د یوې سمبالې فابریکې جوړولو، دشېدو لوښولو ماشینونو، دشېدو لېږدولو لوښو او په مسلکي ډول د فارم لرونکو روزلو په برخه کې مرستې ووشي.

# مروری بر دست‌آوردهای ریاست زراعت نیمروز در سال مالی ۱۳۹۹

مینا افسری
گزارش‌گر



ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت نیمروز، در سال مالی ۱۳۹۹، فعالیت‌های گوناگونی را در عرصه‌های مختلف زراعتی، آبیاری، مالداری، باغداری و منابع طبیعی انجام داده است.

این ریاست در سال مالی گذشته، برای پیش‌برد فعالیت‌ها و برنامه‌های انکشافی خود مبلغ ۵۰ میلیون و ۷۴۲ هزار و ۵۵۰ افغانی بودجه داشت که تمامی این بودجه آن را قالب پروژه‌های مختلف به مصرف رسانده است.

این بودجه در بخش‌های ارزش‌افزایی نبات طبی هنگ، توزیع تخم‌های اصلاح شده، ساخت مزرعه‌های نمایشی گندم و زعفران، احداث باغ‌های پسته و خرما، جلوگیری از امراض حیوانی و بهبود وضعیت مالداری، ایجاد سبزخانه‌ها، برگزاری برنامه‌های آموزشی و تاسیس انجمن‌های زراعتی و مالداری به مصرف رسانده است. ذبیح‌الله اولیازاده سرپرست ریاست زراعت نیمروز می‌گوید: «با استفاده از این بودجه، در سال مالی ۱۳۹۹، بیست کشمش خانه عصری و ۱۵ ذخیره‌گاه پیاز در مرکز و ولسوالی‌های چهاربرجک، چخانسور و خاش‌رود به هزینه مجموعی مبلغ ۱۴ میلیون و ۹۵ هزار و ۸۶۰ افغانی از طریق برنامه مدیریت محصولات زراعتی با ده درصد سهم دهقانان ساخته شده که کار ۳۵ زیربنای متذکره ۱۰۰ درصد تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شده است.»

سرپرست زراعت نیمروز هم‌چنین افزود: «احداث پنج هکتار باغ تجارتی خرما در زرنج مرکز ولایت و ولسوالی چهاربرجک با توزیع یک‌هزار و چهارصد نهال از نژادهای اصلاح‌شده و هم‌چنان توزیع بسته وسایل زراعتی و کود کیمیایی برای باغداران مستفید شونده به ارزش مجموعی دو میلیون و ۳٦هزار افغانی نیز از جمله فعالیت‌های این ریاست است که در سال مالی گذشته انجام داده است.»

آقای اولیازاده گفت که ایجاد ۳۰ هکتار باغ میوه و احیای مجدد ۵۰ هکتار باغ کهنه با هزینه یک میلیون و ۷۴۰ هزار و ۹٦۰ افغانی، توزیع تخم پسته به هزینه ۱۸ هزار و ۲۲۵ افغانی، ساخت ۲۵ سبزخانه سبزیجات برای خانم‌های زراعت‌پیشه، توزیع مرغ‌های تخم‌گذار ۳۰ قطعه‌ای برای یک‌هزار فامیل بی‌بضاعت در قالب فارم‌های کوچک مرغداری با هزینه ۲۹ میلیون و ۴٦۴ هزار و ۳۰۰ افغانی و توزیع نبات هنگ و زیره برای کشت در پنج هکتار، احداث باغ‌های جدید پسته با هزینه ۴۴هزار و ٦۴۰ افغانی، توزیع ادویه‌جات نباتی با هزینه ۷۵هزار و ۹۰۰ افغانی و هم‌چنین توزیع چسب‌های فیرامونی برای کنترول حشرات از دیگر فعالیت‌های این ریاست است.

ذبیح‌الله اولیازاده هم‌چنان گفت که این ریاست به هدف ترویج و افزایش کشت زعفران، ۵۰ مزرعه‌ی نمایشی زعفران ساخته است.

توزیع سبزخانه‌ها برای خانم‌های تهی‌دست جهت اشتغال‌زایی و رشد اقتصاد خانواده‌ها، مبارزه با آفات و امراض نباتی، تدویر صنف‌های آموزشی، ساخت مزرعه‌های نمایشی گندم، توزیع تخم‌های اصلاح، ایجاد ساحات سبز، احیای مجدد جنگل‌ها، مجادله علیه آفات و امراض حیوانی، تاسیس کوپراتیف‌ها و انجمن‌های زراعتی و مالداری و مکانیزه‌سازی زراعت از جمله فعالیت‌های عمده این ولایت است که در سال مالی ۱۳۹۹ انجام شده است.

# کليوالي پرمختيايي پلانونو کې د اقليم بدلون ته پاملرنه

اقليمي بدلونونه نه يوازې دا چې، د طبيعي چاپېريال د بدلېدو لامل ګرځي، بلکې د نا اټکله پېښو لکه د ګردونو او شګو د سختو توپانونو، سېلابونو او وچکالۍ لامل هم ګرځي او ترڅنګ يې اقليمي بدلونونه د تونډو بارانونو او ګرمو – سړو څپو له راتګ سره مختلفې پايلې لکه: د څښاک او کرکيلي د اوبو کمښت، د ځمکو شاړېدو د بهير پراختيا، د ځنګلونو له منځه تلل او د استوګنيز چاپېريال ککړتيا له ځانه سره درلودلې دي.
پر هېواد د اقليمي بدلونونو د احتمالي اغېزو او ترڅنګ يې د پلان جوړونې محدود وړتياوو ته په کتو افغانستان په نړۍ کې د اقليم پر وړاندې يو تر ټولو ډېر زيان منونکی هېواد په توګه درجه بندي شوی دی.
له ښه مرغه په دې وروستيو کلونو کې حکومت دې برخې ته ډېره پاملرنه کوي او د نورو اړوندو ادارو ترڅنګ د کرنې وزارت په اډانه کې هم يوشمېر پروژې دي، چې د اقليمي بدلونونو د ګواښونو د ټيټولو په برخه کې کار کوي. له دغو پروژو څخه يو هم د کرنې وزارت د اقليم بدلون له کبله د رامنځته کېدونکو پېښو د ګواښونو کمولو پروژه(CDRRP) ده.
د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند د اقليم بدلون له کبله د رامنځته کېدونکو پېښو د ګواښونو کمولو پروژه د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام (UNDP) په اډانه کې د «GEF» په مالي مرسته پلي کېږي.
ياده پروژه د ننګرهار ولايت په بهسودو، کامې او کوز کونړ او د جوزجان ولايت په خانقا، فيض اباد او خواجه دوکو ولسواليو کې د ۳۰سيمه ييزو شوراګانو پرمټ فعاليت کوي.
ددې پروژې موخه د اقليم بدلون له کله د طبيعي پېښو کمښت، د فزيکي شتمنيو او ځاني زيانونو مخنيوي او د زيانمونو ټولنو اقتصادي ودې او ښه معيشت لپاره زميني برابرول او د اړوندو بنسټونو پياوړي کول دي.
د اقليم بدلون له کبله د رامنځته کېدونکو پېښو د ګواښونو کمولو پروژه(CDRRP) ددې ترڅنګ چې د اقليمي بدلونونو پر ارزونه، څارنه او تحليل تمرکز کوي او پر ماشومانو، ښځو، لويانو او معلوليت لرونکو خلکو د اقليمي بدلونونو ګواښونه په ګوته کوي، د اقليمي بدلونونو د ګواښونو کمولو په موخه پرمختيايي شوراګانو ته روزنيزې برنامې هم په لاره اچوي، ترڅو دوی وکولای شي، چې د خپلو پلانونو په جوړولو کې د اقليمي بدلونونو ګواښونو کمولو ته هم پاملرنه وکړي.
د دغو روزنيزو پروګرامونو په لړ کې د يادې پروژې له خوا د ۱۵ پرمختيايي شوراګانو غړو لپاره روزنيز پروګرام په لاره اچول شوې وه، چې په دې روزنيز پروګرام کې د يادو ۱۵ شوراګانو رييس، مرستيال، منشي، خزاندار او د شورا د کلستر مشرانو ګډون درلود. ددې روزنيز پروګرام موخه دا وه، چې څنګه د کليو په پراختيايي پروګرامونو کې د اقليم بدلون ته پاملرنه ووشي او د اقليم بدلون په پراختيايي پروګرامونو کې څنګه ځای پرځای شي، چې هم دوی ته د منلو وي او هم په ټولنه کې د پلي کېدو وړ وي، څنګه پلان واضح شي او موخې څنګه په ښه ډول تشريح شي.
په دې روزنيز پروګرام کې د يادو ۱۵ شوراګانو له ډلې يو هم د «سراچې نغلو» پرمختيايي شورا وه.
سراچه نغلو پرمختيايي شورا د بهسودو ولسوالۍ ختيځ ته پرته پر نفوسه شورا او د يادې ولسوالۍ له هغو پرمختيايي شوراګانو څخه دی، چې ډېرې کرنيزې ځمکې لري او هم يې ډېری خلک په کرنيزو چارو بوخت دي. خلک يې بېوزلي او منځنۍ اقتصادي لرونکي دي، د کرنيزو ځمکو لپاره په کافي اندازه اوبه لري، خو ويالې او ورخونه يې معياري او پاخه نه دي له همدې وجې د کال په ځينو مياشتو کې کرنيزو ځمکو لپاره د اوبو د کمښت له ستونزې سره مخامخيږي او ترڅنګ يې ياده شورا د اقليم بدلون له ډول ډول ناورينونو سره مخامخ دي، لکه سېلابونه، بې موسمه بارانونه، ږلۍ، طوفانونه، افتونه او ناروغۍ، شديده ګرمي او يخنۍ، چې تر دې دمه يې د يادو ناورينونو څخه ډېر زيانونه هم ليدي دي.



دا چې دوی څنګه وکولای شي، چې په خپلو پلانونو کې د اقليم بدلون ته پاملرنه وکړي په همدې موخه د اقليم بدلون له کبله د رامنځته کېدونکو پېښو د ګواښونو کمولو پروژې(CDRRP) له خوا دوی ته روزنيز پروګرام په لاره اچول شوی وه.
د سراچې نغلو پرمختيايي شورا مشر ملک ننګيالی مجاهد وايي، چې دا ډېر ښه روزنيز پروګرام وه، موږ په دې روزنيز پروګرام کې د اقليم بدلون په هکله ډېر څه زده کړل. په دې وپوهېدو چې څنګه کولای شو په پلان کې داسې مثبت شيان زيات کړو چې زموږ د ټولنې په ګټه وي.
ملک ننګيالی مجاهد وويل: «که زه تاسو ته يو مثال در کړم، موږ په پلان کې ليکلی وو، چې موږ ته دې برېښنا جوړه شي، خو واضح کړې مو نه وه، چې کوم ډول برېښنا، خو اوس مو په دې روزنيز پروګرام کې زده کړل او وپوهېدو چې پلان کې بايد واضح شي، چې کوم ډول برېښنا ته اړتيا لرو، چې اقليم ته زيان ونه رسوي؛ د بېلګې په توګه وارداتي برېښنا، لمريزه برېښنا او يا اوبيزه برېښنا او داهم بايد په ډاګه شي، چې پروژه بايد څوک پلي کړي.»

په دې روزنيز پروګرام کې د نارينه و ترڅنګ مېرمنې هم ګډون درلود د شورا يوتن ګډونوالې جليله وايي: «دا ډېر ښه پروګرام وو ځمکه موږ ښځو ته په کې د ګډون او په پلان کې د خپلو نظرونو بشپړ حق راکړل شوې وه، او ترڅنګ يې په دې وپوهېدو چې څنګه يو ښه او د ټولنې اړتياوو ته په کتو ټول شموله پلان جوړ کړو ترڅو مو کلي له شته ګواښونو خوندي شي.»
ددې روزنيز پروګرام د بل ګډونوال او د شورا غړی شرف الدين په وينا اقليمي بدلونونه په نړيواله کچه يو ناورين دی، چې نړۍ او په ځانګړې توګه زموږ هېواد په څېر غريبو خلکو ته يې ډېر زيانونه اړولي دي. په دې روزنيز پروګرام کې مو دا زده کړل، چې د هرې پروژې په پلي کېدو کې بايد د اقليم بدلون ته پاملرنه ووشي، ترڅو داسې پروژې پلي نه شي، چې له وجې يې زموږ کلي او ولسوالۍ له زيان سره مخ شي.
د شورا يو تن ګډونوال ګل سعيد بيا وايي، چې زموږ په کليوالي پرمختيايي پلانونو کې د پروژو د پلي کېدو په اړه درې کټګورۍ دي، مخکې موږ نه پوهېدو چې دا کټګورۍ څه معنی لري او دا د چا مسوليت دی، خو په دې ورزنيز پروګرام کې تر ګډون وروسته په دې وپوهېدو که چيرته موږ د يوې پروژې د تطبيق په هکله اوله کټګوري کې د چيک(☒) علامه وکړه دا مانا چې ددې پروژې د پلي کېدو چارې به د کليوالو خلکو په غاړه وي، که چيرته موږ په دويمه کټګوري کې د چيک(☒) علامه وکړه دا مانا لري چې ددې پروژې د پلي کېدو چارې به د ولسي ټرون پروګرام مخته وړي او که چيرته موږ په درېيمه کټګوري کې د چيک(☒) علامه وکړه دا مانا لري، چې ددې پروژې د پلي کېدو چارې به حکومت او نور اړونده موسسات مخته وړي.
له دې سره سره چې د اقليم بدلون يو نړيوال بحث دی خو ورته پام د هر دولت کار دی.د اقليمي بدلون په شتون کې نه يوازې اورښت او اوبه کمېږی بلکې پيښې هم ډيريږی.
اقليمي کارپوهان په دې باور دي، چې دغه بهير کولی شي وچکالۍ، سېلابونه، ګردبادونه او توپانونه زيات کړي. د ځمکې د حرارت درجې په لوړېدو سره د بوټو په کښت کې هم بدلون راځي. که چېرې په هوا کې لږ بدلون هم راشي، د بوټو د عمر او توليد کمېدو لامل کيږي. په ځنګلونو کې د بوټو د کچې کمېدو له امله، چې کولی شو په ځينو مواردو کې د شاړو دښتو زياتېدو نوم ورکړو، په ځنګلي سيمو کې د وحشي حيواناتو ژوند لپاره چاپيريال نامساعدوي.

هفته‌نامه دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷۶۶٤۰۰٦۰۰ - akbar_rostami۱۰@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳٤۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرایی: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷٦٦٤۰۰٦۰۰ ۰۷٤۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE: ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 125 ▪ Dehqan Weekly ▪ Saturday ▪ January 16th ▪ 2021

مهرداد احمدی
گزارش‌گر

# آیا پروان در تولید گندم و میوه‌جات حرف اول را خواهد زد؟

ولایت پروان، در شمال کابل، طی سال‌های شاهد تغییرات چشم‌گیری در عرصه‌ی بهبود فعالیت‌های زراعتی، مالداری و باغداری بوده است. پروان که یکی از ولایت‌های نزدیک به کابل است، در مسیر شاهراه مرکز و شمال قرار دارد. پروان در عرصه‌های مختلف زراعتی از جمله تولید گندم و میوه‌جات، رشد چشم‌گیری داشته است. اما، این ولایت می‌تواند در بخش‌های تولید گندم و میوه‌جات در کشور حرف اول را بزند؟

عبدالوهاب خیرزاد رییس زراعت، مالداری و آبیاری ولایت پروان، می‌گوید که میزان حاصلات گندم طی ۱۰ سال اخیر در این ولایت نزدیک به ۳۰ درصد افزایش یافته و هم‌چنین باغ‌هایی که قبلاً از آن به شکل سنتی استفاده می‌شد، حالا به تجارتی تبدیل شده‌اند. او گفت: «در سال‌های اخیر در ولایت پروان پنج هزار و ۷۷۱ جریب باغ جدید میوه‌جات از طریق پروژه ملی باغداری و مالداری احداث گردیده و سطح کیفیت و کمیت تولیدات باغداری افزایش یافته است. ساحه کشت و تولید سبزیجات بیش‌تر شده و تولیدات سبزیجات ولایت پروان به مارکیت‌های داخلی به فروش می‌رسد. پیاز و بادنجان رومی ولایت پروان به گونه‌ی وسیع همه ساله به پاکستان صادر می‌گردد. سطح تولیدات فی واحد زمین گندم نسبت به ۱۰ ساله گذشته تا ۳۰ درصد افزایش یافته است. البته این تغییر به نسبت توزیع و معرفی تخم‌های اصلاح‌شده گندم و ترویج اگروتخنیک‌های زراعتی مناسب از طریق مزرعه‌های نمایشی و آموزش عملی همه ساله به دهقانان به وجود آمده است. سالانه برای بیش از پنج هزار دهقان تخم گندم تصدیق شده توزیع می‌گردد.»

رییس زراعت پروان هم‌چنین افزود: «ساحه تحت کشت و تولید میوه‌جات و سبزیجات در ولایت پروان افزایش یافته و دهقانان همه ساله این محصولات را به شکل تجارتی کشت و تولید می‌نمایند، سیستم باغداری در ولایت پروان تا اندازه‌ی اصلاح گردیده، کشمش‌خانه‌های عصری در سطح ولایت پروان اعمار گردیده، کیفیت تولید کشمش سبز بهتر شده است، سطح تولید فی واحد زمین گندم افزایش یافته و دهاقین به تخم‌های اصلاح‌شده گندم دسترسی پیدا کرده‌اند، سیستم‌های جدید کشت و تولید محصولات زراعتی ترویج یافته و دهقانان تا اندازه‌ی در رابطه به تکنولوژی‌های جدید زراعتی آگاهی یافته‌اند.»

عبدالوهاب خیرزاد معتقد است که داشتن آب‌وهوای مناسب و قرار گرفتن ولایت پروان در مسیر شاهراه مرکز و شمال و هم‌چنین نزدیکی با کابل نیز، از مزیت‌هایی است که پروان را در راستای انکشاف و بهبود زراعت امیدوار می‌سازد. به گفته‌ی او، نزدیک بودن پروان به پایتخت، نقش عمده‌ی را برای بازاریابی محصولات زراعتی و مالداری این ولایت ایفا می‌کند. آقای خیرزاد تاکید کرد که دهقانان به آسانی و با هزینه‌ی کم می‌توانند تولیدات و محصولات‌شان را به مرکز برسانند. آقای خیرزاد با اشاره به موقعیت ولایت پروان، گفت: «سرک عمومی کابل شمال که مسیر اتصال پایتخت و ولایات شمال کشور می‌باشد، در بازاریابی محصولات زراعتی ولایت پروان نقش قابل ملاحظه‌ی دارد و مقدار زیادی محصولات زراعتی و مالداری ولایت پروان در این مسیر برای مسافرین به قیمت مناسب توسط دهقانان به فروش رسانیده می‌شود. در ضمن ولایت پروان منابع آبی فراوان دارد که شامل دریای غوربند، دریای سالنگ و دریای پنجشیر می‌شود و با اعمار ذخایر آبی می‌توان در رشد و انکشاف زراعت و مالداری و تولید انرژی از این منابع استفاده کرد.»



مالداری نیز یکی از عمده‌ترین بخش‌ها است که طی سال‌های اخیر در ولایت پروان رشد قابل ملاحظه‌ای داشته است.

عبدالوهاب خیرزاد می‌گوید که سالانه بیش‌تر از یک‌هزار و ۴۰۰ متریک تُن گوشت مرغ از طریق فارم‌های کوچک و بزرگ مرغداری تولید می‌شود و هم‌چنین نسل گاوهای محلی نیز در حال اصلاح است. او گفت: «اصلاح نسل گاوهای محلی یکی از فعالیت‌های عمده بخش مالداری می‌باشد که همه ساله بیش از سه‌هزار گاو محلی تحت پروسه القاح مصنوعی قرار می‌گیرد و مالداران علاقه‌مندی بیش‌تر در این بخش دارند. با تشویق مردم در ایجاد فارم‌های گاوداری سرمایه‌گذاری در این بخش افزایش یافته و درحال توسعه می‌باشد.»

برای بهبود شرایط مالداری، پنج مرکز جمع‌آوری شیر نیز در این ولایت ساخته شده است که هریک از این مراکز، روزانه ظرفیت جمع‌آوری دوهزار لیتر شیر را دارد.

پروان از عمده‌ترین تولیدکننده‌ی انگور و کشمش در کشور به شمار می‌رود. آن طوری که ریاست زراعت این ولایت می‌گوید، طی سال‌های اخیر ۴۷۴ کشمش‌خانه در این ولایت ساخته شده است. اعمار این کشمش‌خانه‌ها و ساخت باغ‌های انگور به سیستم چیله‌ای، آغاز کار ساخت یک سردخانه یک‌هزار و ۵۰۰ متریک تُنی برای نگهداری میوه‌جات و سبزیجات تازه در این ولایت، ساخت و تجهیز چهار لابراتوار برای کشت انساج نباتی، تست بیماری‌های حیوانی و نباتی، خاک‌شناسی و همین‌طور القاح مصنوعی حیوانات خانگی، ساخت و بازسازی ده‌ها شبکه‌ی آبیاری و دیگر فعالیت‌های گسترده در زمینه‌های مختلف زراعتی، مالداری و آبیاری از عواملی اند که انتظار می‌رود تا پروان در آینده‌ی نزدیک بتواند در زمینه‌های مختلف زراعتی از جمله تولید گندم، سبزیجات و میوه‌جات حرف اول را بزند.

# د زیتونوحاصلاتو زیاتوالي په پارهڅې؛ ننګرهار کې يې ونو ته پاملرنه زياته شوې

زيتون له ارزښتناکو ګياوو څخه دي، چې د هېواد په ختيځو ولايتونو کې يې ونې شتون لري.

کابو پنځه لسيزه مخکې د زيتونو فابريکې په جوړېدوسره د زيتونو بڼونه هم جوړ شول. په ننګرهار کې د زيتونو د کرکېله سيمه څه باندې يو زر او ۷۲۰ هکتارو ته رسيږي، چې د ننګرهار په کانال کې شتون لري.

د چارواکو په خبره د ننګرهار کانال اړوند د څلورو فارمونو په يوزرو ۷۲۰ هکتاره ځمکه کې د زيتونو ونو دښاخبرى چارې پيل شوي دي، چې تر يوې مياشتې به بشپړ شي. د چارواکو په خبره ددې ترڅنګ چې د زيتونو ونو ښاخ بري دیادو ونو د حاصلاتو په زياتوالي کې رغنده رول لوبوي، د ښاخ برى په موخه يې سلګونه کاريګر ګمارل شوي دي، چې د غنمو په بدل کې د زيتونو ونو ښاخونه پرې کوي.

په هېواد کې زيتونو بڼونو ته د پاملرنې له امله ددې ګرانبيې مېوې حاصلات په زياتېدو دي د ننګرهار ترڅنګ کندهار هم هغه ولايت دی، چې په دې وروستيو کې په کې د زيتونو حاصلات ښه شوي او د زيتونو کاروبار په غوړېدو ده.

زيتون پر دې سربېره چې خوندوره مېوه ده، د هډوکو د خرابېدو، د ځينو سرطانونو، د مفصلونو د درد او التهاب، د هاضمې سيستم د خرابوالي، حساسيتونو، د زړه او ګېډې نورو ناروغيو مخه نيسي.

